## د بریګزیټ پروژې په اړه د برتانوي ټولپوښتنې واقعیت!




**(ژباړه)**

**پوښتنه:**

د برتانیې پارلمان د ۲۰۱۹ م د جنوري پر ۱٦مه د یوې هڅې پر بنسټ د «مې» پر حکومت د باور نه شتون په اړه رایه ورکړه، خو بیا یې هم د ځان په ګټه رایه خپله کړه. چهارشنبه د برتانیې لومړۍ وزیرې ترېزامې په عمومي په مجلس کې له ماتې وژغورل شوه. د دې د حکومت خلاف د بې باورۍ دغه هڅه د کارګر اپوزیسیون له لوري را منځته شوې وه. نوموړې د ۳۲۵ تایید اکثریت او ۳۰٦ رد رایو په لاسته راوړلو سره د باور رایه تر لاسه کړه... د چهارشنبې د رایو پایله ښیي، چې د محافظه کار ګوند نږدې ۱۰۰ هغو غړو چې سې شنبه یې د بریګزیټ تړون پر ضد رایه کارولې وه، چهارشنبه بیرته ګرځېدلي او پر حکومت یې د بې باورۍ پر ضد رایه کارولې... (فرانس پرېس خبري اژانس ۱٦/۱/۲۰۱۹). څه ډول دا موږ درک کولی شو چې د مې د ګوند شاوخوا ۱۰۰ غړي دې د بریګزیټ پروژې پر ضد رایه وکاروي او پرېږدي چې اپوزیسون بریالی شي او په پایله کې د مې پروژه د ۴۳۲ رد او ۲۰۲ تایید رایو په لاس ته راوړلو سره له ناکامۍ سره مخ شي؟ بیا د پارلمان ۱۰۰ غړي راځي او د مې د مخالفینو پر ضد رایه کاروي ترڅو مې بریالۍ شي. داسې ښکاري چې دا د دندو وېش وي! نو بیا په ۲۰۱٦م کې د بریګزیټ د تایید مانا څه کېدای شي، چې دا دی شاوخوا د دوو میاشتو په ترڅ کې بریګزیټ پلی کېږي او اوس رد شو؟! الله سبحانه تعالی دې تاسو ته د نېکو بدله درکړي.

**ځواب:**

برتانیا په کینه او پوهه کې تجربه لري، همداراز د مانورونو او مسایلو  د ځنډولو په پلمه خپلو موخو ته ځان رسوي. د ځواب موندلو لپاره موږ لاندې شیانو  ته بیا کتنه کوو:

لومړی، موږ به د ۲۰۱٦م د جولای پر پنځمه په چاپي خپرونه کې پر ځینو ذکر شویو ټکو رڼا واچوو، چې د ۲۰۱٦م د جون پر ۲۳مه تر ټولپوښتنې وروسته خپاره شول، یانې شاوخوا دوه نیم کاله مخکې، هغه مهال موږ همدا تمه درلوده، کوم څه چې د 15/1/2019م  په اوسنۍ برتانیایي ټولپوښتنه کې پېښ شول:

۱- په برتانیا کې د ۲۰۱٦م د جون پر ۲۳مه په دې اړه یوه ټولپوښتنه ترسره شوه، چې په اروپایي ټولنه کې پاتې شي او که نه. په پایله کې شاوخوا ۵۲ سلنه رایه د دې لپاره وه چې له اروپایي ټولنې څخه ووځي، وروسته لومړي وزیر کامرون خپله استعفا اعلان کړه او ورسره سم به حکومت د دریو میاشتو لپاره پر خپل ځای پاتې کېږي. په ټاکنیز کمپاین کې کامرون ژمنه کړې وه چې دی به ټولپوښتنه کوي، برتانیې له عادت سره سم غوښتل، اروپایي ټولنه او نور غړي دولتونه یې له سیاسي او اقتصادي اړو دوړ څخه و وېروي او ټولپوښتنه یې د دې لپاره مطرح کړه، چې ځانګړي امتیازات تر لاسه کړي او دا وښیي که د ټولپوښتنې په پرېکړه کې برتانیا اروپایي ټولنه پرېږدي، نو څه به پېښ شي.

۲-دغه برتانوي پالیسي د ټولپوښتنې پر مټ ګواښونه کوي چې له اورپایي ټولنې ګټې تر لاسه کړي. کومه نوې چاره نه ده، بلکې برتانیې اروپایي جوړښت ته د داخلېدو له لمړنیو کلونو راهیسې دا کار کړی دی. برتانیې له ۱۹۷۳م کال راهیسې د اروپا د اقتصادي کمېټې (EEC) غړیتوب تر لاسه کړی دی. «سټرلینګ پاونډ» د پولي واحد په توګه ساتل او د شنګن له زون څخه بهر پاتې کېدل دوې هغه ځرګندې نښې دي چې ځانګړی حالت په ډاګه کوي او هغه دا چې برتانیا په اروپایي ټولنه کې له خپل غړیتوب څخه خوند اخلي. برتانیه د «ټولپوښتنې» له نظریې څخه په اروپایي ټولنه کې د پاتې کېدو او له اروپایي دولتونو څخه د باج اخیستلو په موخه کار اخلي ترڅو د اورپایي ټولنې په دننه کې ځانګړي امتیازات تر لاسه کړي. برتانیې په ۱۹۷۵م کال کې ټولپوښتنه وکړه، ترڅو په یاده ټولنه کې د پاتې کېدو وضعیت ښه کړي. په هغې ټولپوښتنه کې د برتانیې خلکو د اروپا په اقتصادي کمېټه (EEC) کې د پاتې کېدو په حق کې رایه ورکړه او په دې ډول برتانوي ټولپوښتنې د دې په موخه ترسره شوې، چې په دې ډول قضیو کې د پالیسۍ موخې تر لاسه کړي. که څه هم دا موخې د کینې له مخې ټاکل شوې وې! محافظه کار ګوند په ۲۰۱٦ م کې په ځیرکتیا سره ټولپوښتنه مطرح کړه او د ګوند غړو په ورته وخت کې هم په ټولنه کې پاتې کېدلو او هم له ټولنې څخه د وتلو لپاره کمپاین  وکړ!

۳- د يادې ټولپوښتنې اړوند د کامرون په مشرۍ د واکمن محافظه کار ګوند پاليسۍ ته په کره کتنې سره دا په ډاګه کېږي، چې کامرون هيله درلوده چې د ټولپوښتنې پايله به بې نتيجې را ووځي او وروستۍ پايله به د تاييد او رد تر منځ په ځوړند حالت کې پاتې شي، له ټولپوښتنې څخه به د منلو او يا ردولو موضوع جوړه شي او په دې سره به د ټولپوښتنې د بيا تکرار لپاره فضا را منځته شي او يا به له دې ډول بې نتيجې پايلو څخه له اروپايي ټولنې سره د نويو خبرو اترو لپاره د فضا رامنځته کولو په موخه کار واخلي. د دې دليل دا دی چې محافظه کار ګوند خپله له اروپايي ټولنې سره د پاتې کېدلو لپاره کمپاين کاوه او په ورته مهال يې د وتلو لپاره هم کمپاين پر مخ يې وړ. په حقيقت کې دواړه د پاتې کېدلو او وتلو کمپاينونه ريښتيني نه وو، دواړه کمپاينونه په هغې کچه ريښتيني وه، چې ټولپوښتنه لار هواره کړي ترڅو له اروپايي ټولنې څخه لا زيات امتيازات تر لاسه شي. په همدې دليل دوی تمه لرله، چې برتانيا به په لنډ مهال کې وتل ځنډوي او په واقعيت کې له اروپايي ټولنې څخه وتل به څو کلونو ته غځېږي. دا ځکه که برتانيا په دې موده کې اروپايي ټولنه پرېږدي نو له خپل مهارت څخه په ګټه اخيستنې سره به خپل مکار او غولوونکي چلونه وکاروي. په دې اړه چې کوم څه له شواهدو او تبصرو څخه په ډاګه شوي او کوم څه چې د رسنيو له لوري د بيانيو په ډول راوتلي دي ټول د دې مخه نيسي چې د ټولپوښتنې پايلې دې پلې شي، بلکې نور هم خوځښتونه بيا ځلې د ټولپوښتنې پر وړاندې راګرځي او کړېږي. (۱۴۳۷ هـ. ق د روژې ۳۰مه - 05/07/2016 )

دوهم: کوم څه چې اوس پېښېږي نږدې هغه څه څرګندوي چې موږ مخکې ويلي وو: دا د «ټولپوښتنې لوبه» ده او له دې امله ځنډېږي ترڅو د برتانيې ګټې تر لاسه شي، که څه هم ناوړه ګټې وي. د دې د تاييد لپاره په لاندې ټکو پوهيدل اړين دي:

۱- «مې» وروسته تر هغې په عمومي مجلس کې له سترې ماتې سره مخ شوه، چې له اروپايي ټولنې سره وروستی شوی د وتلو تړون، د پراخ اکثريت له لوري رد شو. دا د هيواد په تاريخ کې د پارلمان له لوري د يو حکومت لپاره تر ټولو ستره ماته ده... سې شنبه ۴۳۲ د پارلمان غړو د تړون پر ضد رايه ورکړه (BBC، 2019 /16/1). دا په دې مانا، کوم تړون چې د ۲۰۱۹ مارچ پر ۲۹مه له اروپايي بلاک څخه د برتانيې د وتلو لپاره ترتيب شوی و، نه پلی کېږي. د وتلو پرېکړه د محافظه کار ګوند د واکمنۍ دوديزې کړښې نه تعقيبوي، په بدل کې د محافظه کار ګوند ۱۱۸ غړو په پارلمان کې د لومړي وزېرې د تړون پر خلاف رايه ورکړه او له مخالفو ګوندونو سره يې لاس يو کړ. (دا له ۱۹۲۴ راهيسې په پارلمان کې تر ټولو ستره ناکامي ده او په معاصر تاريخ کې د يو برتانيوي حکومت لپاره تر ټولو ستره ماته ده... (CNN عربي 15/1/2019).

۲- تر هغې وروسته چې پارلمان له اروپايي اتحاديې څخه د برتانيې د وتلو پلان رد کړ، د مخالف کارگر گوند مشر جېرمي کوربېن اعلان وکړ، چې د ترېزامې حکومت ته د نه باور رايه ورکولو پر سر خبرې اترې کوي. ده وويل: «دغه حکومت د شورا باور له لاسه ورکړی دی... ښاغلی وياند صاحب زه غواړم چې تاسې خبر کړم، ځکه نو زه غواړم د نه باور رايې د اقدام په تړاو خبرې اترې وکړم... زه خوښ يم چې پر ياد وړانديز سبا خبرې وکړم» ( RT Arabic, 15/1/2019)، خو د رايو پايله د تريزامې په پلوۍ ترسره شوه، ځکه چې د محافظه کار گوند ۱۱۸ غړو د مخالف گوند پر ضد رايه وکاروله او په دې سره يې د تريزامې حکومت له منحلېدو وژغوره. له همدې امله د برتانيې لومړۍ وزيره تريزامې چهارشنبه د ۲۰۱۹د جنوري پر ۱٦ مه له ولسي جرگې څخه بريالۍ و وته او د گارگر گوند له لوري د نه باور رايې اقدام ناکام شو. دا کار تر هغې وروسته وشو، چې له اروپايي اتحاديې څخه د برتانيې د وتلو هوکړه ناکامه شوه. د مې حکومت د ۳۲۵ مثبتو رايو د ۳۰٦ منفي رايو پر وړاندې له منحلېدو څخه وژغورل شو او په دې توگه د عمومي ټاکنو مخه ونيول شوه. دا په تېرو ۲٦ کلونو کې لومړی ځل دی، چې يو حکومت د باور رايه له ولسي جرگې څخه خپلوي. د مخالف گوند مشرانو په دې سره د برتانيې د وتلو د هوکړې (Brexit) په تړاو د ببړنيو خبرو اترو غوښتنه وکړه او چهارشنبه يې خبرې پيل کړې.

د چهار شنبې د رايو پايلې وښوده چې د محافظه کار گوند هغو ۱۰۰ غړو چې له اروپايي اتحاديې څخه د برتانيې د وتلو هوکړې پر ضد يې سې شنبه رايه ورکړه، خو همدغو وکيلانو بيا چهارشنبه حکومت ته د باور رايه ورکړه. (فرانس پريس خبري اژانس، ۱٦/۱/۲۰۱۹). له همدې امله تر دوشنبې ۲۱/۱/۲۰۱۹ پورې وخت شته چې يو «بديل پلان» وړاندې کړي او دا يو شمېر انتخابونه لري، لکه په بروکسل کې د خبرو مېز ته ستنېدل او يا له اروپايي اتحاديې څخه د برتانيې د وتلو هوکړې د نېټې ځنډول، چې د ۲۰۱۹ د مارچ ۲۹ مه ورته په پام کې نيول شوې ده. يا هم له هوکړې پرته پکې له اروپايي اتحاديې څخه بېلېدل شامل دي. د اروپايي کميسيون مشر وويل: «زه له برتانيې څخه غواړم چې خپله موخه ژر تر ژره روښانه کړي. ډېر وخت نشته.» (News site, 17/1/2019)

۳- له همدې امله د برتانوي لوبغاړو لوبه له ورايه روښانه ده؛ د ۲۰۱۹ د جنوري د ۱٦ مې د نه باور رايې پرځای، نوموړې د باور رايه خپله کړه، که څه هم له اروپايي اتحاديې څخه د وتلو هوکړه يې د ۲۰۱۹ د جنوري پر ۱۵ مه ناکامه شوه. د باور رايه ترلاسه کول او له اروپايي اتحاديې څخه د وتلو هوکړې ناکامېدل يو له بل سره په ټکر کې موضوعات دي! خو که غواړی پوه شی، ډېر رازونه په کې نغښتي دي!! د مې د گوند ۱۱۸ غړو د هوکړې پر ضد رايه ورکړه او د مخالف گوند دريځ يې پياوړی کړ، چې دا د دې د پروژې د ناکامېدولو لامل شو! خو همدغه د مې گوند ۱۱۸ غړو بيرته د مخالف گوند پر ضد رايه ورکړه، يانې د مې حکومت ته يې د باور رايه ورکړه او د پروژې (Brexit) ناکامېدل د دې د حکومت د منحلېدو لامل و نه گرځېده!

۴- پورته يادو شويو موضوعاتو ته په کتو، دا روښانه ده چې د ۲۰۱٦ کال ټولپوښتنه په دې موخه ترسره شوه چې برتانيه له اروپايي اتحاديې سره د نويو اړيکو د اصلاح لپاره توجيه پيدا کړي. له همدې امله «مې» د خپل گوند ۱۱۸ غړو ته اجازه ورکړه چې له مخالف گوند سره يوځای د دې د پلان پر ضد رايه ورکړي، ترڅو پر مخالف گوند اغېز وښندي او پياوړی يې کړي او په دې توگه له اروپايي اتحاديې د وتلو پلان (Brexit) هوکړه ناکامه کړي! که دې غوښتي وای چې د ۲۰۱٦ کال ټولپوښتنه دې همدغسې جامده پاتې شي، نو د خپل گوند غړو ته به يې د خپل پلان پر ضد د رايې ورکولو اجازه نه وای ورکړې، خو کله چې د نه باور رايې وخت راورسېد، همدغو غړو د مخالف گوند پر ضد رايه وکاروله، ترڅو د «مې» حکومت له منحلېدو وژغوري! دا کار د دې لپاره وشو چې اروپايي اتحاديه تېر باسي، امتيازات او گټې ترلاسه او له اروپا سره د نويو اړيکو شرايط برابر کړي. دا د برتانيې له اروپايي اتحاديې څخه د وتلو اخرنی اقدام نه دی او نه هم په ورته شرايطو کې له اروپايي اتحاديې سره پاتې کېږي. له اروپايي اتحاديې څخه د برتانيې وتنه خپله د برتانيې پر يووالي باندې ژور اغېز کوي، په ځانگړې توگه د سکاټلنډ او شمالي ايرلنډ پر خلکو باندې، چې پر همدې بنسټ غواړې په اروپايي اتحاديې کې پاتې شي. خو په خپلو شرايطو، يا که له وتلو پرته بل انتخاب نه وي، نو بيا به وکولی شي دومره امتيازات ترلاسه کړي چې د اتحاديې په زيان وي!

۵- اروپايي اتحاديې له برتانيې وغوښتل چې له اروپايي اتحاديې څخه د «وتلو پلان » ژر تر ژره روښانه کړي... «دې (اروپايي اتحاديې) د وتلو د خطر په تړاو خبرداری ورکړ.» (سي ان ان عربي، ۱۵/۱/۲۰۱۹). موږ په تېره ليکنه کې چې د ۲۰۱٦ کال تر ټولپوښتنې وروسته مو خپره کړه همدغې موضوع ته اشاره کړې وه: «داسې ښکاري چې اروپا به د برتانيې لوبه درک کړي او پرې پوهېږي، له همدې امله هيله لري مخکې تر دې چې د ليزبون تړون ۵۰ مې مادې ته ستنه شي او د بېلوالي بهير پيل کړي، د ناروې او سويډن ماډل ته ورته يوه نارسمي هوکړه ورسره کوي، ترڅو خپلې گټې خوندي کړي. که څه هم د ناروې او سويډن خلاف، برتانيه غواړي اروپايي مارکېټ ته لاسرسی ولري، خو د خلکو ترمنځ به آزاد تگ راتگ نه وي، چې همدغه د برتانيې د رايې ورکوونکو د بنسټيزو غوښتنو استازيتوب کوي. ميرکل د همدغه ټکی يعنې له توکو، خدمتونو او پانگې سره يوځای د خلکو ترمنځ «آزاد تگ راتگ» غوښتنه کړې، ځکه ازاد تگ راتگ د اروپايانو لپاره تر ټولو لوی ارزښت دی.

اروپايي اتحاديه د برتانيې په چالاکي پوهېږي. لکه څرنگه چې د اروپايي کميسيون مشر ژان کلوډ ژنکر وويل: «اجازه راکړی چې په ډاگه ووايم؛ «موږ په پټو هڅو سره برتانوی حکومت نه شو څنډې ته کولی، پټې نارسمي خبرې» او ده زياته کړه: «ما ټولو کميشنرانو او د کميسيون کارکوونکو ته څرگند امر کړی؛ هيڅ پټې خبرې نه شي کېدای، هيڅ پټې خبرې.» (Evening Standard, 28/06/2016)

د جرمني لومړۍ وزیرې میرکل د خبرو په ترځ کې یو پیاوړی رغنده پیغام لندن ته واستاوه، دې وویل: «هر هغه څوک چې غواړي دغه کورنۍ پرېږدي، نشي کولی چې خپلو ټولو مسوولیتونو ته شا واړوي، خو امتیازات دې هم هغسې وساتي.» (DPA, 28/06/2016)

٦-پر دې سربېره، برتانیې په کلکه د برتانویانو له غوښتنو سره سم د اروپایي اتحادیې له پوهې څخه ګټه وا نخیسته، بلکې د ۲۰۱۹م د جنوري پر ۱۵ او ۱٦مه یې د ټولپوښتنې وروستۍ لوبې ته دوام ورکړ، چې له امله یې د ۲۰۱٦م ټولپوښتنه له اروپايي اتحادیې څخه د برتانیې د بېلتون په موخه لغوه شوه. دې چارې د تېریزامې د بریګزیټ پر پروژې باور لمنځه یو نه وړ، ځکه چې د نوموړې پروژې انجینره ګڼل کېده، خو دې چارې د دې لپاره یو نوی باور را وټوکاوه، ترڅو یوه نوې پروژه پیل کړي او یو بدیل پلان وړاندې کړي! په ځانګړې توګه د ایرلنډ د موضوع د هوارۍ په اړه، چې یا به د یادې پروژې یوه برخه وګرځي او یا به له یادې پروژې څخه ووځي. په دې اړه رسنیو د مې د پلان په اړه لاندې څرګندونې خپرې کړي:

الف: د ۲۰۱۹م د جنوري پر ۲۱مه د برتانیې لومړۍ وزیرې تیریزامې پارلمان ته په خپلې وینا کې څرګنده کړه: «د دې «بدیل» پلان هغه مهال مطرح شو چې کله د بریګزیټ اړوند د پارلمان غړو د دې او اروپايي ټولنې ترمنځ هوکړه رد کړه. داسې چې برتانیا به د مارچ پر ۲۹مه له هوکړې پرته اروپایي ټولنه پرېږدي، که د پارلمان غړي و نه شي کولی چې د وتلو نېټه وځنډوي یا یو نوي بدیل پلان ته لاسرسی و مومي ترڅو اروپايي کمیسیون ته په دغه اړه قناعت ورکړي... وروسې کله چې د تریزامې پلانونه ترتیب شي، نو څه ډول به مخ پر وړاندې ولاړه شي، د پارلمان غړي به د رایو اچونې په موخه د روان کال د جنوري پر ۲۹مه یو لړ تعدیلات وړاندې کړي. په هوکړه کې یو له اختلافي ټکو څخه چې د پارلمان له لوري رد شو د «امن شبکه یا ګمرکي ډوله سرحد» دی چې دا د ایرلینډ په سرحدونو کې د ازاد حرکت امنیتي تضمین دی. که برتانیا ونه شي کولی له اروپايي ټولنې سره د اوږد-مهاله ازادې-سوداګرۍ پر تړون هوکړه وکړي، نو د سندې ټایم په وینا تیریزامې به له دبلین سره د بېلو ترتیباتو وړاندیز وکړي.( AFP ۲۱/۱/۲۰۱۹)

ب- ټیلیګراف ورځپاڼه د اروپايي اتحادیې د ډیپلوماتیکو سرچینو-چې د نوم یادونه یې نه ده کړې- له خولې لیکي: «د مې غوښتنې دوام لري، ترڅو د ایرلنډې سرحدونو لپاره یو قانوني الزامي مهالي چوکاټ ترتیب کړي. دا له یوه اړخه برتانیې ته حق ورکوي چې له (اروپايي تړونه) ووځي یا له ۲۰۲۱م وړاندې د یوې سوداګریزې موافقې هوکړه وکړي، چې دغه چاره د ایرلنډ د سرحدونو د موضوع اړوند د ځانګړو ترتیباتو مخه نیسي... د لیبیا خبرونه ۲۱/۱/۲۰۱۹).

ج- د ۲۰۱۹م د جنوري پر ۲۱مه تریزامې اعلان وکړ چې بروکسل ته د راستنېدو لپاره یې هوډ کړی و، ترڅو له اروپايي مشرانو سره د هغې هوکړې پر سر د تعدیلاتو په اړه خبرې اترې وکړي چې تېره میاشت یې کړې وه. په

دې هوکړه کې د «امنيتي شبکې يا گمرک ډوله سرحد» د موضوع اړوند ښايي تر بريگزيټ وروسته د دوو ايرلنډونو ترمنځ د اغېزمنو سرحدونو د بيا رامنځته کولو مخه ونيول شي. تريزامې وويل: «زه به په روانه اونۍ کې له خپلو ملگرو سره ووينم- د شمالي ايرلنډ د ديموکراتيک اتحادوي گوند له چارواکو سره- به وگورو چې څه ډول موږ خپلې دندې ساتلی شو، د سرحدونو د بيا رامنځته کېدو مخه نيولی شو او له دې لارې په عمومي مجلس کې پراخ شونی ملاتړ چمتو کولی شو. دې زياته کړه: «زه به د دغو خبرو پايلې په اروپايي کميسيون کې په ډاگه کړم. د اروپايي ټولنې ۲۷ نور غړي هيوادونه د تيريزامې راتلونکی گام له نږدې څاري...( France 24 / AFP ۲۱/۱/۲۰۱۹)

د- بريگزيټ ته په کتو سره تيريزامې د خپل موقف پر مهال ځينې بدلونونه روښانه کړي. لومړۍ وزيرې ژمنه وکړه چې له پارلمان سره په خبرو کې به له «ډېرې نرمۍ» څخه کار اخلي او د کارگر گوند غوښتنو ته به ځواب وايي، ترڅو له يوه اړخه د برتانوي کارگرانو حقوق ډاډمن شي او له بله اړخه بيا د شمالي ايرلنډ او ايرلنډ جمهوريت تر منځ د پراته سرحد پر سر د کلکو گمرگي اصولو د بيا رامنځته کېدو وېره لمنځه يووړل شي. داسې انگېرل شوې، چې تيريزامې به برتانوي پارلمان ته له اروپايي ټولنې څخه د وتونکو شرطونو اړوند يو نوی پلان سپارلی وي، له هغه وروسته چې د ۲۰۱۹م د جنوري پر ۱۵مه پارلمان لومړی پلان رد کړ چې د تيريزامې د حکومت او بروکسل ترمنځ هوکړه پرې شوې وه. د برتانيې پارلمان به د ۲۰۱۹م د جنوري پر ۲۹مه د نوي پلان اړوند رايه وکاروي. (RT Arabic ۲۹/۱/۲۰۱۹)

۷-په پايله کې بايد څرگنده شي چې برتانيا هيڅ يوې هوکړې ته ژمنه نه ده، خو د ټولپوښتنې لوبې له لارې بدلونونه او بدلونونه غواړي او په دې موضوع کې ډېره ماهره، ځيرکه او چالاکه ده ترڅو د دې چالاکۍ له لارې شيطاني او شريرې موخې ترلاسه کړي. پرون، برتانوي ټولپوښتنې د بريگزيټ پروژه تاييد کړه او نن ورځ برتانوي ټولپوښتنې تاييد کړه چې د بريگزيټ پروژه حذف کړي! دا هر څه له دې امله وو ترڅو اروپايي ټولنه تورنه کړي چې د دې ټولنې په بيه د دې پروژې اړوند تعديلات رامنځته کړي. سره له دې، لوېديځ پانگوال ټاکلي ارزښتونه نه لري، خو برتانيې د خپل ښکېلاکي تاريخ په اوږدو کې د نورو په پرتله د ډېرو ماهرو او ټگمارو تجربو لاس ته راوړلو شاهده وه. برتانيا له اروپايي ټولنې څخه نهايي بېلتون نه غواړي، خو د داسې پلان په لټه کې ده چې نه پاتې شي او نه هم ووځي! يانې غواړي چې يوه منځلارې تگلاره غوره کړي چې نه هم په ټرون کې دخيله وي او نه هم له ټرون څخه وتلې وي! په همدې موخه د اروپايي ټولنې له اړيکو څخه د خپلو گټو لاس ته راوړلو لپاره کار اخلي، پرته له دې چې د دې ټولنې قوانينو ته ژمن پاتې شي، خو هر څه د خپلو گټو د خونديتوب پر بنسټ غواړي.

لکه څرنګه چې مخکې یادونه وشوه، د جرمني لومړۍ وزیرې انګېلا مېرکل تر لومړۍ ټولپوښتنې وروسته او په وتلو کې د برتانیې د ځنډ په اړه یې، لندن ته څرګند پیغام ولېږه: «هر څوک که غواړي دغه کورنۍ پرېږدي، نه شي کولی چې خپل ټول مسولیتونه پرېږدي او امتیازات وساتي(DPA ٢٨/٠٦/٢٠١٦). څه مهال چې بریتانیا د بریګزیټ د لومړۍ پروژې په اړه له تعدیلاتو پرته ټینګار وکړي، نو اروپایي ټولنه ښایي بریتانیا اړ کړي، چې پایلو ته غاړه کېږدي. بریتانیا به تعدیلات مني او په عمل کې به یې پلي کوي یا به اروپایي ټولنه پرېږدي. که اروپایي ټولنه دا کړنه ترسره کړي، نو بریتانیا به د خپلې کاري تګلارې په ترڅ کې ناوړه پایلې ترلاسه کړي؛ که د برتانیې شرطونه او تعدیلات ومني بیا به بریتانیا د دې چارې سرپرستي په خپل لاس کې واخلي، ترڅو په داسې ډول یې پای ته ورسوي چې پوه به هم نه شي!»

دا د هغه ملت حالت دی چې دولت یې سیکولریزم او پانګوال نظام پلی کوي او دغې پانګوالې ایډیولوژۍ او فکر ته یې غاړه ایښې. دوی هر یوه، په ځانګړې توګه یوې ډلې یا ټولو ګوندونو ته، ژورې کندې ایستلې، ترڅو پکې ولوېږي. دوی کوم ځانګړي ارزښتونه نه لري چې د دوی مخه ونیسي یا هم داسې اخلاقي اصول چې له دې کاره یې رامنع کړي، خو د دوی ترمنځ جګړه د نورو هغو ملتونو په څېر سخته ده چې الهي قوانین نه پلي کوي.

**﴿بَأْسُهُمْ بَيْنَهُمْ شَدِيدٌ تَحْسَبُهُمْ جَمِيعاً وَقُلُوبُهُمْ شَتَّى ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَا يَعْقِلُونَ﴾**

**[الحشر:١۴]**

*ژباړه: دوی پخپلو منځونو کې ډېر سخت مخالف دي. ته دوی سره غونډ ګڼې، خو د دوی زړونه یو له بله بېزاره دي. د دوی دا حال د بې عقلۍ له امله دی.*

دغه نړۍ چې له سره تر پایه پورې بدمرغیو را چاپېره کړې، تر هغې به خلاصون و نه مومي، ترڅو د راشده خلافت د رامنځته کېدو له لارې د الله سبحانه و تعالی قانون نه وي پلی شوی. دغه خلافت به نه یوازې په اسلامي خاورو کې عدالت او ښېګڼې ته لاره هواره کړي، بلکې د پولو هاخوا ته به هم د الله په خوښه د دغه عدالت او ښېګڼو اغېزمنتیا تر سترګو شي.

**﴿وَلَتَعْلَمُنَّ نَبَأَهُ بَعْدَ حِينٍ﴾**

**[ص:٨٨]**

*ژباړه: او لږ وخت به تېر شي چې تاسو ته د دغه(قرآن) حال په خپله معلوم شي.*

۱۴۴۰هـق، د جمادي الاول ۱۹مه

۲۰۱۹م، د جنوري ۲۵مه